
# قرآن او نننی (معاصر)
# ساینس



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


۱ــــفضا
۲--د کايناتو پيداښت
۳-د سپرم پيداينه
۴--د انسان د جنين وده
۵--د جنس تعين
۶ --د انسان د ماغ اکبر
۷ -غرونه
۸-د مځکې څرخيدل
۹-بحرونه او سيندونو
۱۰--دبحرونه په تل کې موجونه
۱۱--ا وريځي
۱۲ --د مځکې ګرديوالی
۱۳--د لمر حرکت
۱۴--د هر شی جوره(زوج)
۱۵--بادونه
۱۶--د مځکی د لاندی اوبه
۱۷--د ګوتې نښان
۱۸--درد
۱۹--د لمر او سپوږمی رڼا
۲۰--د ستوروتر منځ پلونه
۲۱--د کايناتو توسعه
۲۲- سپوږمیَ ته تګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳--د اتوم تقسمول
۲۴-- الوتونکي
۲۵--د الوتونکو الوتنه
۲۶-- بيګ بنګ(لوی درز)
۲۷--اتموسفير
۲۸--د وينواو شيدو جريان
۱۹-د مچيو مهارت
۳۰--د نړۍ ککړتيا
۳۱--د وخت نسبتی والی
۳۲--توره سوړه
۳۳--د مځکې پيداکول په شپږ ورځو
۳۴--د ستورو ضربان
۳۵--د ميږيانو خبری
۳۶--د ماښام ستوری
۳۷-- نقليه وسايل
۳۸-- الوتکې
۳۹——بريښنا
۴۰-برمه يې چاهان
۴۱-د اتوم بم
۴۲-- نوري مځکې
۴۳-د اوريدو او ليدو حس
۴۴-- د رنګونه توپير
۴۵--وسپنه
۴۶--دعکسونو استول
۴۷- تيل
۴۸-د بوی استول

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۹-اتومي انرژي
۵۰-د کايناتو شکل
۵۱-نور مخلوقات
۵۲-د روښنايي او تيارې
۵۳-د کايناتو ختميدل
قران او وړاندوينې
۵۶-- د سودم اوګومورا ښارونو
۵۷ -د سبا ښار
۵۸-- فرعون
۵۹--دسپټمبر د يولسمی پيښه:
۶۰--د ارم ښار
ساينس پوهانو نظريات د قران د ساينسی...
معجزو په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قران او نننۍ (معاصر) ساینس

د قران کریم هغه وړاند وینې چې د نننۍ ساینس سره یو شی دي:

د قران کریم د مبارکو آیاتو ورتوالی د نننۍ ساینس د نویو برسېرونو (کشفیاتو) سره یو رڼ حقیقت دئ د نننۍ ساینسي نوي برسیرنې د قران کریم رښتیا والی هغو ته چې کافران دي ثابتوي. الله (ج) په قران کریم کې فرمایي:

**۵۳:۴۱** «ژرده چې و به ښیو دوی ته دلایل (د قدرت) خپل چې په افاق ملکونو کښې دي او په نفسونو د دوی کښې دي تر هغه پوري چې ښکاره شي دوی ته چې بیشکه دغه قران حق دئ...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۰:۳«بېشکه په پیدا کولو د آسمانونو او مځکې کښې او په توپیر د شپې او ورځې کښې خامخا دلایل دي لپاره د خاوندانو د عقلونو»

نننۍ نوی ساینس دا ثابتوي چې قران کریم یو آسماني کتاب دئ او انسانان د داسې کتاب د لیکلو توان نه لري، هغه هم (۱۴ )پېړۍ مخکې چې ساینس دومره پرمختګ نه وو کړۍ.

قران کریم د ساینس کتاب نه بلکې د نښو او علایمو کتاب دئ داسې نښې چې انسان ته بلنه ورکوی چې پر مځکه دخپل ژوند او نړۍ د پیدا ایښت په اړه غور او سوچ وکړي.

سید حسین نصر چې د فلسفي ساینس پروفیسور او هم د جورج تاون د پوهنتون د فزیک او ریاضي پروفیسور دئ په خپل یو لکچر کې یې داسې وویل:

د اسلام د(۱۹) پیړۍ یو نامتو شخصیت یو افغان وو، چې جمال االدین افغان نومېد هغه ځان الافغاني باله هغه د( ۱۹ )پېړۍ یوه نامتو اصلاح پال مسلمان وو هغه نه یوازې یو فیلسوف بلکې یوه سیاسي څېره وه چې د خلافت ضد

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقیده يې لرله هغه د لوېديځ د ساينس سره مينه درلوده او د اسلام دوباره احيا يې غوښتل .هغه ويل:
ولي لوېديځ پر مخ تللی دئ؟ ځکه هغوی د ساينس نه استفاده کوی حال دا چې ساينس د اسلام نه را پورته شوی دئ مسلمانان بايد د خپل شي نه چې ساينس دئ خپله کار واخلي ځکه په ساينس کې لوړ پرستيج، قوت او د ډيرو ربړو نود حل کيلۍ شته نو بايد دا مال د اسلام بيرته په اسلام پورې اړه پيدا کړي.
او مسلمانان بايد د العلم (ساينس ) په ګاڼو ځان سينګار کړي.

قران کريم د رهنما او پوهي کتاب دئ چې د ځمکې له پيدا کيدو نه تر قيامته پورې ټول مالومات په کښې شته.
الله (ج) په قران کريم کې فرمايي:

۵۲:۲۸« نه دئ دا (قران) مګر خو ذکر د ټولو عالميانو لره»
۱۳:۴۳« او مسخر کړی دئ تاسو ته هر هغه شئ چې په آسمانونو کښې دئ او ځمکه کښې دئ ټول له طرفه د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه خامخا لوی ایت(دلایل) د پاره د هغه قوم چې فکر کوي»
خدایتعالی دا ټول شان انسان ته مسخر کړي، نو انسان باید پر هغه سوچ وکړي او له هغو نه کار واخلي.
الله(ج) په قرانکریم کې فرمايي:

۲۲:۵۴«اسان کړی دي موږ ذکر پند اخیستلو ته نو آیا شته څوک یادونکي»
الله(ج) د خپل اخیري پیغامبر محمد(ص) د قران کریم د نازلیدو د ملاتړ په هکله ډیري معجزې او ثبوتونه رالیږلي دي او دا ثابتوي چې قران کریم ټکي په ټکي د خدای(ج) کلام دئ او دغه رالیږل شوی قران کریم د بل چا له خوا نه دئ ویل شوی بېله یو خدای(ج).
۸۷-۸۸:۳۸«دغه (قران) مګر پند دئ د پاره د عالمیانو او خامخا عالمیان به شي هرومرو په خبر( د صدق) د دي (قران) لږ وروسته»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساینس د پرمختګ سره د قرانکریم رښتیاوالی ورځ په ورځ کافرانو ته ثابتیږي او هره ورځ ډیر پوهان او پوه خلک اسلام ته رااوړي او د اسلام چوپړ ته موټي را نغاړي.
دلته د ننني پرمختللي ساینس نوي رابرسېرونو ته یو نظر اچوو چې هغه ته په قران کریم کې څوارلس پېړۍ مخ کې اشارې شوي دي.

## ساینسی معجزی په قران کریم کې:

قران کریم د خدای (ج) کلام د ئ چې پر محمد (ص) د جبریل (ع) په واسطه نازل شوئ دئ او بیا د هغه لخوا و خپلو همراهانو ته دیکته شوئ او هغو دا کتاب په یاد کړی، لیکلی او بیا یې دوباره د محمد (ص) سره د سره کتلی دئ او خپله محمد (ص) هر کال یووار بیا نازل شوي آیاتونه د جبریل (ع) سره له سره کتلي دي او د ژوند په وروستي کال کې یې ټول قران کریم دوه واري له سره کتلی دئ. له هغه وخت راهیسې تر اوسه هر کال په زرګونه خلک ټول قران کریم سر تر پایه په یادوي ان ځینې ماشومان تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسو کلنۍ پوري ټول قران کريم حفظ وی. په دې(۱۴ )پېړيو کې يې ان يو توری، هم نه دئ تغيير او تبديل شوی.

قران کريم چې(۱۴۰۰ )کاله مخکې نازيل شوئ دا سې شواهد و ته يې اشاره کړې ده چې اوس اوس د ساينس پوهانو لخوا هغه په ثبوت رسيدلي او يا رابرسيره (کشف )شوئ دئ. دا ټوله منکرانو ته دا ثابت وې چې رښتيا قران کريم ټکي په ټکي د الله (ج) کلام دئ او پر محمد (ص) رسول د پاک خدای(ج) لخوا نازل شوئ دئ، او هغه قران کريم نه دمحمد(ص) او نه د بل چا اثر دئ دا هم ثابتوي چې رښتيا محمد (ص) د الله(ج) رسول دئ دا هغه شيان دي چې( ۱۴۰۰ )کاله مخکې ويل شوي دي چې ځينی يې اوس د ساينسي نوی پرمختللو وسايلو او ميتودونو په واسطه رابرسيره، جوت او ثابت شوي دي.

فضا:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فضا په هکله په قران کریم کې درې مبارک آیتونه راغلي دي.

الله(ج) په قران کریم کې فرمایي:

**۳۳:۵۵**«... اې ټولیه د پیریانو او انسانانو که چیرې قدرت لرئ تاسي چه بهر ووځئ[نفذوا] له څنډو د آسمانونو او مځکې څخه پس ووځئ وبه نه وځئ مګر[ سُلطن] په قوت او زور سره»

**۱۵:۱۵-۱۴**« ...په هغه (دروازه) کښې چې تل ختل (اسمان ته) نو خامخا به یې ویلي وو بیشکه هم دا خبره ده چې [سُکرت]یا خیره شوي دي سترګې زموږ بلکه یو قوم یو چې جادو راباندې کړي دوی وي»

د انګریزې(if) د عربي (اِن) د شرایطو او امکاناتو مانا لري یعنی فرضیه د رسیدولو یا نه رسیدولو ده.

په عربي کې (حتی) او(ان)د امکان او(لا) د نه امکان مانا ورکوي.

په قران کریم کې دلته جین او انس ته اشاره کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د(نفذوا ) مانا د ( د کازیرنیرسکایز ) ډکشنري په اساس :مستقیم تیریدل او د بدن بلي خواته راوتلو ته وایي لکه:
غشی
نو دلته د ژور نفوذ کولو او بلي خوا ته د راوتلو مانا ورکوي.
د( سُلطن ) لفظ ویوې پروژې ته د رسیدولو په مانا ده ببله شکه د دې مبارک ایت نه مالومیږي چې یو ورځ به انسان پورته آسمان ته وخېژي نه یوازې آسمان ته بلکې د مځکې دننه به هم د څیړنې او سپړنې لپاره تا شي.
او په دویم او دریېیم مبارکوآیتو نو کې چې خدای (ج) د مکې کافرانو ته خطاب کوي او فرمایي:
که ان د آسمان دروازه خلاصه شي او هغوی را پورته شي هغوی به په مغشوش نظر وګوري لکه هغه چې ډیر نشه وي یا داچې چا کوډي پر کړي وي.
کله چې په (۱۹۶۱) کال کې دانسان سفرو فضا ته پیل شو او د هغه ځایه مځکې ته وکتل شول هلته آسمان لکه د مځکې نه چې مالومیږي شین نه، بلکه تک تور مالومیدئ ځکه د لمر وړانګې چې د مځکې په اتموسفیر ولګیږي نو آسما ن

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ ته تک شین مالومیږي خو هلته مځکه په تور آسمان کې په شین شپول کې نغښتي ښکاريږي:
د مځکې هغه خوا چې د لمر خواته ده روښانه او نیمه بله خوايې تیاره مالومیږي. کله چې مځکه په خپل مدار څرخي روښنايې هم هغسې پاته کیږي او په بل نیم اتموسفیر کې یې یو انتقالي خوځون (حرکت) لیدل کیږي او په(۲۴) ساعتو (ګړیو) کې همداسې په بله خوا کې هم په عین وخت کې یو انتقالي حرکت لیدل کیږي. که څوک په دې حالت کې مځکې ته وګورئ تاسو به له هېښتیا نه داسې سوچ وکړئ چې تاسو نشه یاست یا چا کوډي در باندی کړي دي. ځکه د انسان سترګې ورته مبهوت پاته کیږی لکه هغسې چې قران شریف اشاره ورته کړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کایناتو پیدا ښت:

د کاسمو لوژي تیوري او څېړنې دا ښیي چې په یو وخت کې ټول کاینات هیڅ شی نه وو مګر یو لوګی(یو مبهم ډیر کثافت لرونکی شی او تاوده ګازونه) او یوه ا وریځ وه.

دا د ستنډرد اوننۍ کاسمولوژي یو منل شوی اصل دئ چې تر اوسه د دې لوګیزو موادو نه نوي ستوري د پیدا کیدوو په حال کې لیدل کیږي.

دا د شپې په آسمان کې چې د استوري مالومیږي د دا ټوله له همدې دود یا لوګي نه جوړ شوي اجرام دي.

په دې هکله قرانکریم فرمایي:

۱۱:۴۱«بیا یې اراده وفرمایله آسمان ته حال دا چې د غه آسما ن یو لوګی [دُخان] وو»

ډاکټر( الفرید کرونر )د جرمني د میونیخ د پوهنتون د جیولوژي نامتو پروفیسور وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوچ وکړئ محمد له کومه ځایه پوهیدی ؟زه فکر کوم دا ناممکنه ده(۱۴) پیړۍ مخکې دي ثوک د کایناتو په منشا پوه وي ځکه ساینس پوهانو اوس دا ثو کاله مخ کې د ډیرو لوړو تکنالوژي د میتودونو په مرسته دا رښتیا وموندله او ثورلس سوه کاله مخ کې ثوک په هستوي فزیک پوهیدئ؟ چې ووایي آسمانونه او مځکه یوه منشا لري.

## د منی(سپرم) پیدا اینه:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:

**۵-۷:۸۶**«نو ودی ګوري انسان چې له څه شی څخه پیدا کړۀ شوئ دئ.

پیدا کړ شوئ دئ له اوبو ټوپ وهونکیو څخه په رحم کښې هسې اوبه(مني) چې راوځي له منځه د( شا ) او له هډوکیو د سینو څخه»

د جنین په پړاو کې د نارینه تولیدي اورګان خوټې(خصیه) او د ښځې تخمدان(اوري) د بډوډۍ او د شاشمزی د یولسم بنداو دولسمي پښتۍ تر منځ واقع وي چې بیا وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دااورګانونه کښته کيږي د ښځيو اوري يا تخمدان ( پلويکس ياکونغری ) ته رسيږی او د نارينو هغې لاندی تګ ته ادامه ورکوي او مخکې له زيږېدو د( اينجينل کانال )له لاري(سکروتم ) ته رسيږي ان په ځواني کې لا هم توليدي اورګان کښته ځي د دې اورګان عصبي رشتې اود وينو زيرمه د ګېډې شريان (ابدومينل اروتا ) ته رسيږي چې دا ساحه د شا تير يا ستون فقرات او پښتۍ تر منځ پرته ده

د انسان د جنين وده :

په قران کريم کې د انسان د جنين د(پړاونو ) مرحلو په هکله داسې راغلي دي:


**۱۲-۱۴:۲۳**«او قسم دئ خامخا په تحقيق پيدا کړی دي موږ آدم له خالصو خټو نه بيا وګرځاوه موږ دغه نطفه په يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېنګه قرارګاه [قرارم] کښې بیا وګرځوله موږ دا نطفه د وینوټوټه[علقه] بیا وګرځوله موږ دا [مضغه] بوټۍ د غوښو هډوکو بیا وروسته ور واغوستله موږ دې هډوکو ته غوښه بیا مو پیدا کړ دی په پیدا ایښت بل سره...»
د عربي لغت (قرارم) ساتنې ته وایي چې دلته یې موخه د جنین ساتل دي دلته د شا دتیر چې د شا عضلات هغه لا قوي کوي د جنین ساتنه کوی او هم د( امینوتیک کڅوړې ) چې د(امینوتیک مایع ) لري لخوا یې ښه ساتنه کیږی نو جنین لکه چې ویل شوی دي په ښه تېنګ او حمایه شوی ځای کې اوسیږي.


په عربي کې( علقه ) درې ماناوي لري:
لومړی یې وینه اخښستونکی ، دویم ځړېدلی (معلق) شی او دریېیم یې د وینویوه ټوټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




که د وینه اخیستونکي و مانا ته وګورو په لومړي پړوا کې جنین د مور له وینو نه تغذیه کوي.
که د(علقه) دوېمې مانا ته وګورو معلق (ځړېدلی) شي ته وایي په دی پړاو کې جنین د مور په رحم کې معلق مالومیږي.
که درېیمې مانا ته یې وګورو.د جنین بهرنی بڼه لکه د وینو یوه ټوټه مالومیږي ځکه په دې پړاو کې په جنین کې ډیره وینه راټولیږي او تر درېیمې اوونۍ پوري وینه په جنین کې نه بهیږی نو ځکه جنین لکه یوه ټوټه د وینو وي نو دا د علقه درې سره ماناوي په جنین کې صدق کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




او په دوهيم پړاو کې (مضغه) چې په عربي کې يې مانا
زبيښونکي مواد دي
په دې پړاو کې د جنين بڼه دد غاښود نښاني په ډول
زبيښونکي مواد غوندي نيسي ځکه په دې پړاو کې د جنين
په شا کې کړۍ کړۍ شکلونه لکه د چنجانو ليدل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا محمد (ص) (۱۴۰۰) کاله مخکې څرنګه په دې پوهیدئ؟
حال دا چې هغه وخت دا ننني وسایل او الکترونیکي مایکروسکوپونه نه وه کشف شوی.
(هیم )او (لیووینهوک ) لومړي ساینسپوهان وو چې په (۱۶۷۷ )کې یې د انسان د سپرم حجره د وخت د پر مختللي مایکروسکوپ لاندي ولیدل هغوی چې د حضرت محمد (ص) نه یې زر کاله وروسته ژوند کاوه بیا یې هم په غلطۍ سره فکر کوی چې د سپرم حجره د ډیر وړوکي ماشوم بڼه لري او د ښځې په رحم کې کرار کرار وده کوي
پروفیسور(یمیریتوس کیت موری ) د نړۍ نامتو ساینس پوه چې د کانادا دترانتو د پو هنتون د حجرې او اناتومي استاد دئ د خپل د (انسان د ودې) نامه په کتاب کې چې تر اوسه پر اتو ژبو ژباړل شوئ دئ او د امریکا له ښو کتابو نه ګڼل کیږی کې لیکي:
دا ماته د افتخار ځای دئ چې د انسان د ودې په تشریح کې مې مرسته وکړه دا واضح ده چې دا کلام د خدای لخوا و محمد (ص) ته را لیږل شوی دئ ځکه دا مالومات څو پیړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته روښانه شوي او دا ثابتیږي چې محمد(ص) رسول د خدای(ج) دئ.
بیا د موري نه وپوښتل شوه: آیا ته دا منې چې قران کریم د خدای کلام دئ ؟
هغه ځواب ورکړ : په دی کې هیڅ شک نشته.
الله(ج) په قران کې فرمایې:
۸۲:۸-۷«هغه چې پیدا کړی یې ته نو برابر یې کړي ته پس موازینه یې کړي ته په هر شان (کامل) صورت سره چې وی‌یې غوښته پیوند یې کړي ته».

## د جنس تعین:

د جنس تعین په جنین کې د نر سپرم په واسطه تعینیږي نه ده ښځې د تخمې په واسطه.
د کوچني جنین( ۲۳ ) جوړې کروموزوم ایکس ایکس ( xx )یا ایکس وای (xy) اړه لري نو د جنس تعین یوازې په هغه سپرم اړه لري چې تخمه القاح کوي که د ایکس( x )

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپرم تخمه القاح کړه ماشوم جنۍ او که د وای(y )تخمه القاح کړه نو ماشوم هلک راځي.
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
**۴۵-۴۶:۵۳** « بیشکه هغه (الله) پیدا کړي یې دي جوړې نر او ښځه له یوه څاڅکۍ اوبو (مني) څخه کله چې وڅڅاوه شي په رحم [تمنی ]کښې».
د (نطفه) عربي مانا ده دمایع یولږ مقدار د (تمنی) مانا ده انزال یا بهر کیدل نو نطفه اشاره و سپرم ته ده چې خارجیږی او جنس تعینوي.
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
**۳۷-۳۹:۷۵** «آیا نه د دغه یوه څاڅکۍ له مني څخه تو یوه شی(رحمونو ) بیا و دې یوه ټوټه د وینو پیدا کړ الله (د اندامونویې) پس برابر کړ نو پیدا کړله هغه څخه جوړه نارینه ښځه...»
تر اوسه ځینې خلک ښځه د جنس په تعین کې پړه بولي حال دا چې د نر سپرم د جنس تعین کوونکۍ دۍ.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ماغ اکبر:

خدای(ج) په قرانکریم کې د هغه سړي په هکله چې محمد (ص)یې په کعبه شریفه کې له لمانځه نه منع کوئ وایي:
**۹۶:۱۲-۱۵**«...قسم دئ که نه شو منع نو خامخا به یې سخت را کاږو په وېښتو د تندي [ناصیه] دا ناصیه درواغجنه او ګناهکاره ده»

ولي قران کریم وایي د سر مخکنۍ برخه درواغجنه او ګناه کاره ده؟
ولي قران کریم نه دي ویلي ګناه کار او درواغجن سړی؟
د سر د مخکنۍ خوا د درواغو او ګناه سره څه اړیکې لرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library




که دانسان د سر اسکلیت کې د سر مخکنۍ برخه وګورو دا د دماغ اکبر مخکنۍ خوا ده. فیزیو لوژي د دې برخې د دندې په هکله د فیزیولوژي او اناټومي د اساساتو کتاب کې داسې لیکل شوي دي: د سر د مخکنۍ بر خه (پریفوتل اریا )د هیجاناتو ، د وړاند وینو ، د پلان او ابتدایي حرکاتو مرکز دئ چې د کارټکس دیو ځای کیدو ساحه ده. همدارنګه داکتاب وایي: د ا چې دا برخه په هیجاناتو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخیله برخه ده همداسې فکر کیږي دا ساحه د تجاوزي کارونو مرکز هم وي.
که څه هم دا برخه د بنو او بدو هیجاني حرکاتو د پلان مرکز دئ خو د درواغو او رښتیا ویلو مسولیت یې هم په غاړه دئ. نو دا ثابیږي چې دا ساحه د ګناه ډکه او دروا غجنه برخه ده دا موضوع اوس د ساینس پوهانو لخوا په دې وروستیو شپیتو اخیرو کلو کې کشف شوی ده.

## غرونه:

پروفیسور (ایمریتیس فرانک پریس) چې د امریکا دپخواني رییس جمهور جیمی کارتر د ساینس د چارو سلاکار وو او دولس کاله د واشنګټن د ساینس او ملي اکاډیمۍ رییس وو په خپل کتاب (ځمکه) چې د نړۍ په ډیرو پوهنتونو کې د اساسی ریفرنس او درسي کتاب دئ لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرونه د مځکې لاندی بنیادي جرړي لری دا جرړي په مځکه ننوتلي دي چې د موږي یا میخونو بڼه لري دا هغه شی دئ چې قران کریم هغه(۱۴) پیږی مخکې تشریح کړی دي الله (ج) په قران کریم کې فرمایي:

سوره۷۸:۷-۶

«آیانه ده ګرځولې موږ مځکه بستر(فرش) ، او غرونه[اوتادا] میخونه؟»

دمځکې پر سر غرونه لکه میخونه د ي چې دا جرړي د مځکې لاندی پټ دي، د ساینس په اساس لومړی تیوری چې ویل شوی غرونه ژوري جرړي لري په (۱۸۶۵ )د ( منجم رویل.سر جورج هیري )ویلي دي هغو ویل: غرونه د مځکې دقشر په ثابتوالی کې مهم رول لري او د مځکې د ښوریدو اوخوځښت خنډ ګرځي.

الله(ج) په قران کریم کې ویلي دي:

۱۵:۱۶« او غورځولي يې دي پر مځکه بارونه (غرونه) لپاره ده دې چې ونه ښوربږي مځکه پر تاسو باندي...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پلیټ نیولوننی تیوری ثابتوي چې غرونه د مځکې موازینه ساتي دا تیوري چې غرونه د مځکې موازینه ساتي په کال(۱۹۶۰)کې ویل شوي ده.
د جیولوژي په اساس د مځکې شعاع(۲۰۳۵)کیلو متره ده د د بحر لاندی د ځمکې قشر(۵)کیلومتره دئ او د غرونو لاندي دا قشرتر(۸۰) کیلومتر پورې رسیږی هر څومره چې دمځکې قشر نری کیږي په هم هغه اندازه د مځکې د ښوریدو دا امکانات ډیر یږي.
الله(ج) په قران کریم کې فرمایي:

۳۱:۲۱«او پیدا کړی مونږ په مځکه باندې درانه غرونه ولاړ چې ونه خوځیږي دا مځکه په دوی، ګرځولی دي مونږ په په دغه(مځکه) کښې ارتي لاري دپاره د دې چې دوی لاري ومومي»
آیا د حضرت محمد (ص) په وخت کې خلک د غرونو په اساسي شکل پوهیدل؟ان چا دا ګمان کولای شو چې دا جامد غرونه په مځکه کې غږیدلي دي او جرړي لري لکه چې او سیني ساینس پوهانو هغه تایید کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاصري اوننۍ جيولوژي هم دا د قران کريم سوره تصديق
کړې ده.


## د مځکې څرخېدل:

الله (ج) په قرانکريم کې فرمايي:
۳۹:۵ «پيدا کړی دي آسمانونه او مځکه په حق سره
تاووي[کور] شپه پر ورځي او تاووي ورځ په شپه او مسخر
کړی لمر او سپوږمۍ چې هر يو روان دي تر مسمی شوی
نېټې پوري...»
د عربي لغات (کور) اصلي مانا د انګريزي (کويل) سره يو
شی ده لکه پر سر باندی لونګۍ پيچل.
الله (ج) په قران کريم کې فرمايي:
۸۸:۲۷ «...او وينې به ته غرونه ګمان به کوې ته پرهغو چې
کلک ولاړ دي حال دا چې دوی به ځی تيريږی په شان د
اوريځي...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بحرونواو سیندونو:

دننني ساینس د کشف په اساس هلته چې دو بحرونه سره یو ځای کیږی د هغو تر مینځ یو حایل شته دا حایل د دوو هغو بحرونه تر منځ چې متفاوته تودوخه ،مالګینتوب او کثافت لري شته د مثال په توګه د مدیتراني بحراوبه نسبت د اتلانیک د بحر اوبو ته تودې، مالګینې او لږ کثافت لرونکی دي.




نوکله چې په (ګبریال درشل) کې د مدیتراني دبحر اوبه د اتلانیک بحر ته د څو کیلو مترو په اوږدوالي او د زرو مترو په پلنوالي ننوځي دا اوبه هلته ثابتي پاته کیږي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحرغتې چپې ، مدوجذر او قوي جریانات دا او به نه سره ګډوي او دااوبه د یو بل سره نه ګډیږي.
الله(ج) په قران کریم کې فرمایي:
**۱۹-۲۰:۵۵**«..بهولی یې دي دوه بحرونه سیندونه چې یو ځای ښکاریږي په منځ د دواړو کښې یو مانع ده چې نه ګډېږی یو په بل باندی»
خو کله چې قران کریم وایي د خوږو او ترخو اوبو تر منځ یو جلا کوونکی شته چې دو ی نه پرېږي سره ګډې شي.
الله(ج) په قرانکریم کې فرمایي:
**۵۳:۲۵**«..خوشي کړي یې دي دوه بحرونه سیندونه چې دغه خوږ دئ ډیر خوږ چې تنده ماتوونکی او هغه تریو دئ او ګرځولې ده (الله) په منځ د دغو دواړو کښې یوه مانع او [برزخ] منع کوونکي حصه..»
که یو سوال وشي چې ولي قران کریم د خوږو او ترو اوبو تر منځ کښې مانع وایي.؟او د بحرونو تر منځ بیا مانع اومنع کوونکي حصه وایي؟
ننني ساینس دا کشف کړېده چې د بحر په هغه کوشنی برخه چې سیند ته ننوځي او هغه ځای کې تروې او خوږې اوبه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ځای کيږی نو خوږې اوبه د تروو اوبو نه جلا وي او د دوی تر منځ يو ( پيکنو کلين زون )جوړيږي چې کثافت يې د دې دواړو اوبو نه توپير لري د دې جلا کوونکي زون مالګه هم د دې خوږو او تروو اوبو نه توپير لري
دا معلومات اوس په دې وروستيو کلنو کې د ډيرو پر مختللو وسايلو چې د بحرونو تودوخه،د مالګې اندازه ، کثافت او په اوبو کې د منحل شوی اکسجن اندازه مالوموي کشف شوي دي د انسان په سترګو دا توپيرونه نه مالوميږی او ټوله ورته يو ډول ښکاري.

## د بحرونو د تل چپې:

الله (ج) په قران کريم کې فرمايي:
۴۰:۲۴ «..يا په شان د هغو تاريکيو دي په ژور بحر کښې چې پټ کړی وي سره يو موج د پاسه بل موج وي او د پاسه د دغه ( موج ) اوريځ وي تيارې دي چې ځيني د دې د پاسه د ځينو نورو دي کله چې راوباسئ لاس خپل نه وي نژدې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويئ دغه (لاس خپل) او هر هغه چې نه وي وركړى الله ده ته نور رڼا پس نشته ده ته هيڅ نور رڼا»

دا مبارك آيات د بحرونو په تل كې د تيارو خبري كوي چې هلته كه انسان لاس راوباسي هغه خپل لاس نه شوى ليدلى، د بحر لاندې دا تياره د دوه سوه مترو نه پيل كيږي په دې ژوروالي كې روښنايي نه شته او د زر مترو په ژوروالي كې بيا بلكل روشنايي نه شته انسان نه شوى كولاى تر څلو ښتو مترو نه زيات ژور په اوبو كې ښكته دې چې په ځانګړو وسايلو مجهز وي ولاړ شي. او بل دا چې د بحرونو لاندى ژوروكې څپې او موجونه شته او د هغه دپاسه نوري څپې شته او دا دوهمي څپې بيا دبحر د سرڅپې او موجونه دي چې موږ هغه وينو ځكه په دې مبارك ايات كې راغلي دي چې دوهمې څپې لكه اوريځي دي

او ساينس پوهان داخلي څپو په هكله وايي دا داخلي څپې يا موجونه دي چې د مختلفو كثافت لرونكو اوبو تر منځ واقع كيږى دا داخلي څپې د بحرونوژوري اوبه پوښي ځكه ژوري اوبه لوړ كثافت لرى اودا داخلي موجونه لكه د بحر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر ،مخ چپې عمل کوي هغه لکه بهرني موجونه ماتيږي
.انسان داخلي موجونه نه شوی ليدلای ځکه دا موجونه د
تودوخې يا مالکې په توپير سره په يوه ساحه کې را ثرګند
يږي:

## اوريځې:

ساينس پوهانو د اوريځو ډولونه مطالعه کړي او دا يې
جوته کړې ده چې د باران اوريځ په يو معين سيستم کې
شکل نيسي او جوړيږي چې دا د اوريځو او بادونو په
ډولونو پورې اړه لري.
د باران يو ډول اوريځ د (کومولونيمبوس) اوريځ ده
(ميتيورولوجستانو) په دې پوهيږي چې څرنګه اوريځ
باران ، ږلۍ او تالانده جوړوي
د کومولونيمبوس اوريځ د لاندې پړاونو وروسته جوړيږي:
۱-اوريځې د باد په واسطه پورې وهل کيږئ: د
(کومولونيمبوس )اوريځ هغه وخت جوړيږي چې کوچنۍ ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وریځي(کمولس) د باد په واسطه یو مرکزی ټکي ته پورې
وهل شي.
۲- یوزایوالی: کوچنۍ ا وریځي سره یو ځای کیږی او غټې
اوریځي جوړوي.
۳-خره کیدل: کله چې کوچنۍ اوریځي سره یو ځای شوې او
غټې اوریځي یې جوړې کړې نو دا اوریځي کرار کرار
پلنیږي چې دا پلنوالۍ په مرکزکې نسبت اړخو ته ډیر وي نو
کله چې دا عمودي غټوالی ډیرشي نو اوریځي دا تموسفیر
یخو برخو ته پورته کیږي او هلته د اوبو او ږلۍ ورې دانې
جوړوی او کرار کرار دا دانې غټیږي چې دا دانې درنې
شوی نو د اوریځي لاندی خواته راځي اوبیا د باران او ږلۍ
سبب ګرځي.
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
۲۴:۴۳«آیا نه وینې ته چې بېشکه الله روانوي
شړی اوریځي بیا یو ځای والۍ فرمایی په منځ د دغو
اوریځو بیایې وګرځوي لاندې باندې قت قت نو ویني به ته
ای (انسانه) باران چې وځي له منځه د دې اوریځي ...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

میتیورولوجستانو اوس په دې وروستیو کلنو کې په ډیرو پرمختللې وسایلو لکه: الوتکو، کمپوترونو، ستهیلاتونو او بالونونو په وسیله د اوریځو د جوړولو په بڼه او ساختمان پوه شوي دي.

دا ذکر شوی مبارک ایت د اوریځې د جوړیدو وروسته د تالندې او ږلۍ په هکله داسي وایي:


۴۳:۲۴ «... نازلوی الله له آسمانه غرونه دا وریځو چې وي په هغه غرونو کې ږلۍ پس رسوی الله دا ږلۍ هغه چا ته چې اراده و فرمایي او ګرځوي له هر هغه چا څخه چې اراده یې وفرمایي دا تیزه روشنایي نژدې ده د هغو سترګې ړندې کړي»

(میتورولوجستانو) دا موندلې ده چې د (کومولونیمبوس) اوریځې هغه چې ږلۍ اوروي ۲۵۰۰۰ تر ۳۰۰۰۰ فیټه یا (۷.۴-۷.۵) مایله لکه غرونه پلنوالۍ لري.

د میتورولوجي په اساس هغه اوریځې چې ږلۍ اوروي هغه برقي کیږي: کله چې د باران څاڅکي د ږلۍ د دانو سره ومښلي یا ټکروکړي نو هغه څاڅکي کنګل کیږي او خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پته انرژي ازاده وي دا انرژي بیا د ږلۍ مخ تودوي او د یخي کرستل یې مخ پوښي او الکترونونه د ساړه شیانو نه تودو



شیانو ته حرکت کوی نو ږلۍ منفی چارچ اخلي همدا سې کله چې د ږلۍ دانې د ډیرو یخو
ځاځکوسره تماس وکړی د دې یخو کوچنۍ ځاځکو د دړو مثبت چارچ ماتیږي؛ دا مثبت چارچ بیا د اوریځي پورته خوا ته ځي او ږلۍ منفي چارچ نیسي او اوریځي لاندې خوا ته ځي او هغې ته منفي چارچ ورکوي او دا منفي چارچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د تندر سبب ګرځي نو ږلۍ د تندر د پیدا کېدو مهم فکتور دئ لکه چې قران پاک وایي.

په(۱۲۰۰) کې د (ارستوتل ) نظریه دا وه چې اتموسفیر دوه ډوله هوا تولید وي یوه سړه او بله توده.هغه ویل: د تندر ږغ د وچي هوا او اوریځو د منښتلو څخه پیدا کیږي او بریښنا بیا د وچي هوا په بې شمیې اورسره د سوځیدولو نه پیدا کیږي. دا هغه نظریه وه چې د اسلام په وخت کې هم خلکو باور پرې درلود.

## د مځکې ګردیوالۍ:

په لومړي وختونو کې خلکو دا عقیده درلوده چې مځکه اواره ده او خلک ویریدل چې د هغه نه ونه لویږي.
(فرانسیز دراک )لومړی سړی وو چې هغه په کال(۱۵۹۷ )که د بحري سفر وروسته وویل چې مځکه ګردې ده.
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۹:۳۱«آیا نه وینئ چې بېشکه الله ننباسي[یولج] شپه په ورځ کښې او ننباسي ورځ په شپه کې او مسخر کړی دي تاسو ته لمر او سپوږمۍ هر یو روان دی تر ټاکلي مودې پورې»
یولج (ننباسي ) مانا لري ،کرار او په تدریج سره ننیستل.
نو که مځکه اواره وای نو شپه په ورځ او ورځ په شپه به یو وار دفعتاً اوښتله نو دامبارک ایات دا مانا لری چې مځکه ګردې ده.
خدای (ج ) په قران شریف کې فرمایي
۴۰:۳۶«نه دئ لمر لایق دغه لره چې لاندې کړي سپوږمۍ ونه شپه ړومبۍ کیدونکي ده له ورځې او دغه ټول( فلکي اجرام ) په اسمان کې چورلیدونکی [یسبحون] دی»
د یسبحون چې له (سباحه )نه اخیستل شوې ده لغوي مانا یې(حرکت، څلورو خواوو ته ګام (قدم )واهل او وضعي حرکت دئ )
(taymiyah )ابن تایمیحا ه چې (۱۳۲۸ )کي یې وفات کړی دې یو مشهورمفسیر ووهغه په مجموع الفتوا ه شپږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوک( ۵۲۷-۵۲۲ ) پاڼه کې لیکي: فلک چې جمع یې( الفلوه )ریښه یې فلکان ده ګردي شي ته وایي
هغه وایي: آسماني اجرام ټول ګردي دي نو لمر او سپوږمۍ هم فلک یعنی ګردي دي
ابن عباس وایی فلک څرخیدونکي ارغړۍ ته وایي
خلیفه رشید وایي دحهاد شتر مرغ هګۍ ته وایي
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
**۳۰:۷۹**«.. او مځکه وروسته له دغه صافه [دحها]وغوروله»
د (دحها ) مانا په هکله (ا. یوسف علی) وایي دحها یوه معنی وسیع او پراخه او بله معنی یې د شتر مرِغ هګۍ ده نوځکه مځکه د شتر مرغ د هګۍ سره ورته بڼه لري.
د مځکې د ګردیوالي یو ثبوت د دوو ختیزونو او دوو لویدیزونو ذکر دئ:
الله(ج) په قران کریم کې فرمایي:
**۱۷:۵۵**«رب د دواړو مشرقینو او دواړو مغربینو دئ»
دا دا مانا لري چې لمر په نیمه کره د ځمکې کې را پورته کیږی او بلي خوا ته غروب کوي دا یې یو ختیځ او یو لویدیځ او په بله نیمه کره کې بیا لمر دبل ځایه را خیژی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل چیری لوېږی دا یې دوېم ختیځ او لویدیځ که مځکه اواره وای نو یو ختیځ او یو لودیځ به ویل شوی وایي همدا علت دئ چې په نیمه کره کې ورځ او عین وخت کې په بله نیمه کره کې شپه ده او د دواړو مغرب او مشرق سره توپیر لری.
همدا علت دی چې دلته د دوو ختیزو یا دوو لویدیزو فاصله نسبت له لویدیزه تر ختیزه واټن نه زیاته ښوول شوی ده ځکه دیوې نیم کرې د لمر ختلو ځای د بلې نیم کرې د لمر لوېدولو ځای دئ
۳۸:۴۳ «...کاشکی چې وی په منځ زما او ستا کښې لری والی لکه د مشرقینو...»

## د لمر حرکت:

(کیپلر) لومړی سړی و چې هغه ویل: لمر څرخې اوس دننی ساینس له خوا دا جوته شوې ده چې لمر په افقي ډول حرکت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
۳۶:۳۸«لمر [تجری] ځي په خپلی تګ کلي لارې [مستقر] باندې دغه اندازه ده د ښه غالب قوي ښه دانا »
د تجرې مانا ده کرار او منظم افقي حرکت کول
او د مستقر مانا ده هغه وخت او ځای چې ختمیږي.
(یوسف علی) وایي: مستقر درې ماناوې لري:
لومړی: محدود وخت
دویم: د استراحت ځای
او دریم: مسکن یا د ژوند کولو ځای
دلته یې لومړی مانا سمه ده او ځیني بیا وایي دویمه مانا یې سمه ده یعنی د شپې استراحت کوی چې د بلې ورځې لوبه پیل کړي ، چې موږ ته مالومیږي.
لمر په (۲۵ ) ورځو کې یو وار په خپل محور را څرخي او په فضا کې یې حرکت( ۲۴۰ ) کیلو متره په یوه ثانیه کې دی او د هغه یو دور (۲۰۰ ) میلیونه کاله نیسي چې په فضا کې یو وار وڅرخي.
سپوږمۍ په( نو ښنت نیمي ) ورځو کې یو وار په خپل مدار را څرخي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
**۴۰:۳۶**« نه دی لمرلایق دغه لره چې لاندې کړي سپوږمۍ او نه شپه رومبۍ کیدونکي ده له ورځې او دغه ټول په آسمان کښې چورلیدونکي [یسبحون] دي».
هر یو په فضا کې خپل مدار لري او هر یو خپله خپله دحرکت لاره لري.
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
**۳۵:۱۰**«الله هغه ذات دی چې ګرځولي یې دي لمر رڼون (ځلیدونکی) او سپوږمۍ روښانه او مقرر کړی یې دي هر یوه ته منزلونه لپاره د دې چې پوه شئ تاسو په شمیر د کلونو او په حساب...»
**۵:۳۹**«او مسخر کړی په کارلګولي یې دي لمراو سپوږمۍ چې هر یو روان دي تر نیټې په نامه کړی شوي پوري...»

## د هر شی جوره(زوج) پیدا کول:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۹:۵۱**«او له هر چیزه څخه پیدا کړي دي موږ جوړې د پاره د دې چې تاسې پند واخلئ»
هر شی انسانان، ژوي او نباتات ان اتوم چې منفی او مثبت چارچونه لري جوړه پیدا شوي دي
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
**۳۶:۳۶**«پاکي ده هغه الله ته چې پیدا کړی یې دي دغه جوړې ټول له هغو څیزونو چې زرغونوي یې مځکه او له هغو څخه چې دوی یې نه پیژني»
هغه شیانو لکه چې عرب نه پوهیدل چې نباتات هم نر او ښځه لري او انسانان تر اوسه هم په ډیرو شیانو نه پوهیږی نور هغه شیان چې خدای (ج) جوړې پیدا کړی شاید په راتلونکي کې انسان په هغه پوه شي.

انسانان ،ژوي او نباتات ټوله جوړې لري یعنی نر او ښځه لري د نباتاتو د نر او ښځې په هکله لومړی ځل یو فرانسوی بوټانیست په (۱۹) پیړۍ کې دا نظر درلود او وروسته بیا یو هندی بوټانیست۱۹۲۱ د( بوس ) په نامه دا موضوع نشر ته ورسوله چې ټوله نباتات ښځه او نر لري ان هره میوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه او نر لري که د جواري ټانټه وګورو دهغه دواړو خواوو
داني نارينه او د مابين داني يې ښځينه دی چې د دې
ښځينه دانو نه يې د نسل ګيرې د پاره استفاده کيږي.

## بادونه:

خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي
**۲۲:۱۵**« او راليږلی دی موږ بادونه بلاربونکې **[لواقع]** پس
نازله کړي ليږلې ده موږ تاسو ته دغه اوبه نو وڅښولی موږ
تاسی ته دغه اوبه...»
په دې ايت کې دوه ډوله ژباړه کيدای شي باد د نباتاتو د
القاح سبب ګرځي ځکه باد د نباتاتو ګرده انتقالوی دا شايد
په هر حال يوه نمونه او کنايه وي او بل داچې بادونه د
اوريځود جوړيدو سبب ګرځي خدای (ج) په قران شريف کې
فرمايي:
**۴۸:۳۰**«الله هغه دئ چې راليږي بادونه پس پورته کوي
اوريځي نو خپروي دغه په آسمان کښې څرنګه چې اراده
وکړي...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنني، هايدرولوژی بلکل د دې قراني تشريح سره موافقه لری.

## د ځمکې لاندی اوبه:

د اوبو په رول هر څوک پوهيږی په اوومه پيړۍ کې (تاليس او ميلی توس) يوه تيوري طرح کړې وه هغوويل:
د بحرونو اوبه ځمکې ته راپورته کيږی او بيا په خاورو کې نفوذ کوي.
تر( ۱۸ ) پيړۍ پوري همدا تيوري چليدله بيا (برنارد پاليسی ) په(۱۵۸۰ )کې دا نظر ورکړ :چې د مځکې لاندی اوبه د باران د اوبو نه لاس ته راځي چې دا (۱۴ )پيړۍ مخکې قرانکريم همدا اسي ويلی دي.
خدای (ج ) په قران شريف کې فرمايي
**۲۱:۳۹** «آيا نه وينې ته الله بيشکه نازلي کړي دي له (طرفه) د اسمانه اوبه پس ننه ايستلی يې دي دا (اوبه ) په چينو د ځمکې کښې...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ګوتې نښان:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
**۴:۷۵** «...حال ده چې قادر یو موږ په دې باندې چې برابر کړو نښان د ګوتو د دوی»
کافرانو ویل چې په قیامت کې د مړو د هډوکو نه څرنګه خلک را ژوندي کیږي او هغه له څه نه پیژندلی شي چې څوک دئ؟ خدای (ج) فرمایي کولای شو ستاسو د هډوکو د یوځای کیدو نه تاسو ژوندي کړو او ستا سو هویت د ګوتو د نښونه پیدا کړو. د ګوتې نښان په (۱۸۸۰) کې د هویت د تشخیص لپاره وروسته له هغه چې( فرانسیز ګوت )څیړنه وکړه چې د دو تنو ان د دوو غبرګولیانو د ګوتې نښان یو ډول نه دئ د ګوتې نښان یو ساینسي میتود شو. چې اوس د دې میتود نه په ټوله نړۍ کې د پولیسو لخوا د جرایمو د مخنیوي لپاره کارول کیږي.

## درد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې وايي درد يوازې په ماغزو اړه لري غلطه ثابته شوی ده اوس دا جوته شوی ده چې دردونه په پوستکی هم اړه لري .

پروفيسور (تګاتت تجاسين) د تايلند د پوهنتون د اناټومي د ديپارتمنت پروفيسور وايي:
دا د تعجب وړ خبره ده چې دا موضوع اوس کشف شوې خو قران کريم هغه(۱۴ )پېړۍ مخکې ويلې ده.
خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي
**۵۲:۴**«هر کله چې پاخه شي پوستکي د دوی بدلو مونږ د وی ته پوستکي غير له هغو له پاره د دې چې وڅکي دوی عذاب(درد )»

## د لمر او سپوږمۍ رڼا:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخوا دا نظر وو چې سپوږمۍ خپله روښانه ده خو اوس ویل کیږی چې د سپوږمۍ رڼا یوه انعکاسی روښنایې ده.خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:

**۲۵:۷۱**«لوی برکتناک دې هغه ذات چې پیدا کړي یې دي په آسمان کښې برجونه او پیدا کړې یې ده په کښې ډیوه(لمر)او سپوږمۍ روښانه»

لمر ته په عربي کې شمس ،سراج او وهاج وایي د سراج مانا ده لمپه د وهاج مانا ده د شغلیزه(ځلیدونکی ) لمپه او دضیا مانا ده لوړ ځلیدونکی چې د ټولو ماناوی هغه روښنایي او تودوخې ته وایي چې د داخلی احتراق نه لاس ته راځي.

او سپوږمۍ ته په عربي کښې قمر وایي او په قران کریم کې ورته( منیر) او( نور) ویل شوی دی چې غبرګه (انعکاسی) شوی روښنایی ته وایي

او قران کریم وایي چې سپوږمۍ ه غیر فعاله او بې روښنایی ده او له همدې خاطره لمر ته منیریا نور نه دی ویل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ستوروتر منځ پلونه:

پخوا داسي ویل کېده چې د ستورو تر منځ خلا ده، اوس د استروفزیک پوهانو دا کشف کړیده چې د ستورو تر منځ پلونو وجود لري چې هغه ته پلازما وایي پلازما یو ایونایز ګاز دئ چې ازادو الکترونونو او پروتونونو مساوی تعداد لري
پلازما د اجسامو ثلورم حالت (جامد ، مایع او ګاز ) دئ.
خدای (ج ) په قران شریف کې فرمایي:
**۲۵:۵**« هغه (الله) چې پیدا کړی یې دي آسمانونه او مځکه او هغه چې په منځ د دغو دواړو کښې دي...»

## د کایناتو توسعه:

په( **۱۹۲۵** ) کې یو امریکایی ستور پوه (یدوین هبل )داسې شواهد وښوول چې کهکشانو نه یو د بل نه لیري کیږي او کاینات توسعه پیدا کوي
خدای (ج ) په قران شریف کې فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۷:۵۱«او آسمان موجود کړی دئ موږ په قدرت خپل او بیشکه موږ خامخا [موسعون] پراخوونکي یو»
موسعون په عربي کې د توسعې معنی ورکوي.
یو مشهور استروفیزیک پوه( ستیفن هاوکنګ )په خپل کتاب( د وخت مختصر تاریخ ) کې لیکلی دي: دا د کایناتو د توسعې کشف او موندنه د شلمي پیړۍ یو لوی کشف دئ.

## سپوږمۍ ته تګ:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
۸۴:۲۰-۱۸« (او قسم خورم ) په سپوږمۍ کله چې مکمله شي خامخا تاسې پورته[ترکبن] به شی تاسې د یو طبقې نه وروسته بلې طبقی ته
پس څه دی چې ایمان نه راوړی»
د ترکبن لغت چې د راکبه نه اخیستل شوی دی معنی یې ( پورته کیدل ، پیاده تګ، تعقیبول... ) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو به په راتلونکي کې سپوږمۍ ته طبقه په طبقه او مرحله په مرحله چې مقصد يې نقليه وسايل دي چې مرحله په مرحله تکميل شويدي
او همداسي کيهانوردان هر طبقه د اتموسفير د يو بل پسی تيروی او بيا د سپوږمۍ جاذبې ته ننوځی.
خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي:
۸۰:۳۱-۲۵ «بيشکه موږ توی کړي دي او به تويول بيا ځيری [شقاً] کړی ده موږ ځمکه ځيرول بيا مو زرغوني کړي دي په هغې (ځمکې)...»
خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي:
۵۴:۱ «را نژدې شو هغه ساعت چې شق [انشق] شي سپوږمۍ»
دلته د شقاً معنی يوې کول او کندل راغلې ده که (۱۹۶۹) ته سپوږمۍ ته ختلو مراجعه وشي هلته يو کيهانورد پياده شو او د سپوږمۍ خاوره يې وکندله او له ځان سره يې مځکې ته راوړله چې د دی مبارک ايت مانا داسي کيداى شي چې «هغه ساعت (نژدې دئ ) چې سپوږمۍ مطالعه شي».

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۹۶۹) کال مصادف دئ(۱۳۹۰ )هجري کال سره که دا
یات شریف د ابجد په حساب جمع شي (۱۳۹۰) ورکوی

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | | ل | | س | | ا | | ع | | ة |
| 1 | + | 30 | + | 60 | + | 1 | + | 70 | + | 400 |
| و | | ا | | ن | | ش | | ق | | |
| 6 | + | 1 | + | 50 | + | 300 | + | 100 | | |
| ا | | ل | | ق | | م | | ر | | |
| 1 | + | 30 | + | 100 | + | 40 | + | 200 | | |
| TOTAL: 1390 (GREGORIAN 1969) | | | | | | | | | | |

خدای ښه پوهیږی !

## د اتوم وېښل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲۳) پيړۍ مخکې د( ديموکريتس )تيوري چې ويل يې اتوم تر ټولو کوشنی ذره ده او عربو هم همدا عقيده درلوده او دا تر څو کالو تر مخي پوری چليده اوس دا جوته شوې ده چې اتوم ماتيدونکی دی او دا د شلمي پيړۍ يو مهم کشف دئ.

خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي

**۳:۳۴** «...نه پټيږی له ده په اندازه د يوې ذرې(اتوم) په اسمانونو کښې او نه په مځکه کښې او نه وړوکی له هغې ذرې او نه لوی...»

خدای(ج) د اتوم د لوی او وړوکی باندی خبر دئ

اتوم ته په عربي ذره وايي نو مالوميږي له اتوم نه کوچنی شی هم شته.

## د الوتونکې:

خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۸:۲«او نشته هیڅ حیوان خوځیدونکی تلونکی په مځکه کښې او نه هیڅ مارغه چې الوځی مګر ټول مخلوقات دی په شان ستاسو...»
ځیرنې دا ښیي چې ټول ژوي او الوتونکي ټولنیز ژوند ، د ژوند نظم او د کارونو ویشل لری

## د الوتونکو الوتنه:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
۷۹:۱۶«آیا نه ګورئ په طرف د الوتونکو چې مسخر کړی شوي دي په هوا د آسمان کښې نه ساتي دوی مګر الله بیشکه په دغه کښې خامخا دلایل دي د پاره د کام( قوم )چې ایمان راوړي»

۱۹:۶۷«آیا نه ګورئ مرغانو ته له پاسه د سرونو د دوی پرانیځي وزرونه او ټولوي نه نیسي نه ساتي دوی په هوا کښې[یمسکهن] له پریوتو ...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يمسکهن مانا يو لاس په بل لاس اينبوول دی چې يو شی ونيسي چې الله تعالی الوتونکې په خپل واک کې لری د ځينو الوتونکو سفر کول د يو ارثي جين په واسطه کنترولیږی او ځوان الوتونکې ببیله دی چې پخوانی تجربه ، رهنما او نخشه ولری ببیله کومي غلطۍ مغلق سفرونه کوي.
پروفيسور(همبيرګر ) په خپل کتاب (قدرت او کمزوري ) کې ليکي :موتون الوتونکې د فاسفيک بحر به سر په شپږو مياشتو کې( ۲۴۰۰۰ ) کيلومتره سفر کوی او د يوې اوونۍ تميدو نه وروسته بيرته خپل پخواني ځای ته راستنيږي.

## د بيګ بنګ(لوی درز ):

د بيګ بنګ د تيوري په اساس ټول کاينات په ابتداکې يو ه لويه کتله ( لومړنۍ نوبيلا يا سحاب يا دوړه )وه بيا هلته يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیګ بنګ (لوی درز ) چې هغه بیا د کهکشان د جوړیدو
سبب شو منځ ته راغلي
په کایناتو کې د استرو فزیک د تشریح په اساس لوی درز
ته بیګ بنګ وایي چې د هغه په پایله کې کهکشان جوړ
شول او په هغه کې بیا ستوري ،سیارې،لمر او سپوږمۍ
پیدا شول.
خدای (ج ) په قران شریف کې فرمایي:
۳۰:۲۱ «... چې بیشکه آسمانونه او ځمکه وه دواړه سره نښتی
پس بیل کړل موږ دواړه»

## اتموسفیر :

خدای (ج ) په قران شریف کې فرمایي:
۱۱:۸۶« او قسم دی په آسمان خاوند د بیرته
[رجع]ګرځیدو (چورلیدلو )»
۲۲:۲ « ..چه ګرځولی یې ده تاسو ته ځمکه فرش او آسمان چت
او نازلي کړی یې دي له آسمانه اوبه...»»

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړي مبارک ایات کې خدای(ج) په آسمان قسم اخلي او د هغه دنده دوباره استول بېله دې چې وويل شي د څه شي استول نبيې.

په دوېم مبارک ایات کې آسمان ته چت ويل شوی دئ. راشئ د نننۍ ساينس په رڼا کې اتموسسفير ته وګورو !

اتموسفير په اصطلاح د مځکې هوا ته وايي چې د مځکې له مخه پيل کيږی او تر خلا پوري رسيږی چې په څو پوړيو(طبقو ) ويشل شوی دئ.

لومړي پوړته تروپو سفير دوېمي ته ستراتوسفير ، دريېمي ته ميزوسفير او څلورمي ته يې ترموسفير وايي.

د بيرته استولو مانا دا ده چې باران را استول او د اوبو بيرته تبخيرول او آسمان ته تلل يا د لمر د وړانګودوباره غبرګون (انعکاس ) و آسمان ته ، يا د لوړي تودوخې او د راديو اکتيفو دوړانګو بيرته استول تشيال (فضا ) ته چې موږ تري وساتي.

او همداسې د آسماني ډبرو (ميتورايټونو ) نه د مځکې ساتل دي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

دترموسفير په پوړ( طبقه )کې دتودخې درجه له(۵۰۰ )نه تر( ۱۵۰۰ )سانتي ګراده پورې رسيږي کله چې ميتورايټونه په ډير سرعت د مځکې خواته راشي د تروموسفيرد د پوړ سره تماس وکړي ويلي کيږي.

په فضا کې چې دا ستوري د حرکت په حال کې ليدل کيږي دا هغه ميتورايټونه دي چې په فضا کې اوري او د اتموسفير سره د تماس په وخت کې يوه سره غورځکه کيږي

د اوزون طبقه ډيرې وړانګې جذبوي او بيا هغه بيرته استوي. نو اتموسفير لکه يو کمپله د مځکې مخ پوښلی دئ او مځکه د يخني او تودوخې نه ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ستراتو سفیر طبقه بیا د ماورای بنفش وړانګې جذب وي او میوزوسفیر بیا میتورایتونه ویلي کوي.

همداسې مځکه یوه مقناطیسي زوروره ساحه لري چې هغه ته( مګنتي سفیر ) وایي چې زرونه مایله پراخه طبقه ده دا پوړ مځکه له آسماني توپانونو نه ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نوی مشاهدات د ناسا او اروپا د فضا د اجنسي لخوا د ستیلایټونو لخوا تر سره شوي دي.

## د وینواو شیدو بهیدنه:

د اسلام نه( ۲۰۰ ) کاله وروسته یو مسلمان ساینس پوه( ابن النافع ) د وینو جریان تشریح کړ او بیا (ولیم هاروی ) په لویدیځ کې خپله نظریه تشریح کړه هغوویل: د غذا په وسیله اعضا تغذیه کیږی
خدای (ج ) په قران شریف کې فرمایي
۲۲:۱۲«بیشکه چې دي تاسی ته په چارپایانو کښې ډیر لوی عبرت چې در ښبوو موږ تاسي ته له هغه ځینو ځیزونه څخه چې دي په ګېډه‌ود هغو له منځه د کلمو او د وینو شودی صافي پاکي اسان تیریدونکی لپاره د ښبو نکو»
هغه مغلق کیمیاوی کړه وړه چې په کلمو کې صورت نیسی د غذا نه کارامد مواد استخراج کیږی او او کارامد مواد یې د یو مغلق سیستم په واسطه د وینو سیستم ته ننوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا وینه دا غذ ایي مواد ټول بدن ته رسوي چې په هغه کې د
شیدو د تولید غودې هم شاملي دي.
خدای (ج ) په قران شریف کې فرمایي:
**۲۱:۲۳**«او بیشکه چې تاسي ته په څارویو کښې خامخا
عبرت دئ چې ځښوو موږ تاسي ته له هغو پیو نه چې په
ګېډو د دوی کښې دي او شته تاسي ته په دغو (څارویو
کښې ) ګټې ډیري اوله د دې خورئ تاسي»
دا قراني تشریح د ننني فیزیالوژی د کشفیاتو سره یو شی
ده.

## د مچیو مهارت::

خدای (ج ) په قران شریف کې فرمایي
**۶۹:۱۲**«بیا نو وخورئ تاسو (ای مچیو ) له هر قسم میوو
څخه نو ځئ په لیاره د رب خپل ...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۸:۱۲«او په زړه کښې وا چوله رب ستا د مچیو د شاتو ته
چې و نیسئ تا سي په غرونو کښې کورونه او له ونو څخه او
له هغه څخه چې خلک یې لوړ جوړوي».
(وان فریچ ) چې د مچیو د ژوند په هکله څیړونو کې یې د
نوبل جایزه اخیستي ده وایي:
یوه مچۍ چې یو نوي باغ او یا نوي ګلان پیدا کړي بیرته
ځی او نورو ته خبر ورکوي او د هغه ځای نخشه ورښیی چې
دا کار د مچیو د ډانس په نامه یادیږي.
دا ټول کارونه د ساینس د کشفیاتو کمپیوتري کامرو او
نورو ساینسي میتودونو په واسطه اوس کشف شوي دي
مچیو ته په دې مبارک ایات کې مونث ذکر شوي دي(
فسلوکی او کولی ) یعنی غذا را ټولوي عسکراو کارګر
مونث دي
شکسپیر د څلورم هنري په نندارمه (نمایشنامه )کې مچیو
ته عسکر چې یو پاچا لري وایي هغه وایي دا کارګر عسکر
نران دی او دا غلطه ده چې هغوی پاچا ته راپوړت ورکوي
بلکی کارګرې دي چې ملکې ته راپوړت ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ ککړتیا:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
۴۱:۳۰«ظاهر شو فساد په بر او بحر کښې په سبب چې کړی
دي لاسونه د خلقو د پاره دوی چې و څکوی دوی ته څه
(سزا ) د هغو(عملونو چه کړی دی دوی د پاره د دې چې
واورې دوی...»
دلته دا مانا ورکوی چې د فساد او خرابکاری ګناه خپله په
دې نړۍ کې وینئ د مثال په ډول که د اوزون طبقه د دوی
په واسطه خرابه شی ضرر به یې دوی ته ورسیږي.
۳۱:۷«...او خورئ او څښئ او اسراف مه کوئ...»
خدای تعالی اسراف منع کړي دي چې زیان یې بیرته دوی
ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ننني ورځي ډيري ناروغۍ د همدې ډير خوراک نه پيدا کيږي.

## د وخت نسبتي والی:

انشتاين ويلي دي چې وخت هم نسبي دئ چې نظر په شرايطو تغير کوی او ديو شی وخت د هغه په کتلې او سرعت اړه لری.
خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي:
۴۷:۲۲ «او بيړه کوي (کفار) په تا په (راوستلود) عذاب او له سره خلاف نه کړی الله وعده خپله او بيشکه يوه ورځ په نزد د رب ستا لکه زر کاله هغه کلونو څخه چې شميری يې تاسي»
۵:۳۲ «تدبير کوي (او نازلوی) امر کارله اسمانه ځمکې ته بيا بيرته خيژی هغه کار ده ته له مځکې ورځي [يوم] کښې چې ده اندازه د هغې زر کاله له هغوی چې شميريې تاسی»

(c) ketabton.com: The Digital Library


په (۱۹۱۵) کې انشتاین وویل :وخت نسبتی دئ
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
**۴:۷۰**«په هغه ورځ[یوم] کښې چې ده اندازه د هغې پنځوس زره کاله»

## توره سوړه:

د هر هغه ستوري چې انرژي یې ختمه شی تورې سوړې ته ننوځي.
توره سوړه چې نا محدود کثافت. صفر حجم او ډیره وسیع او قوی مقناطسي ساحه لري
هغه ان په قوی تلسکوپونو نه لیدل کیږی ځکه د هغه د جاذبي کشش ډیر زورور دی چې ان د روښنایی وړانګې یې له هغه نه نشوای راوتلای
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
**۷۵-۷۶:۵۶**« نو قسم خورم زه په ځایونو د پریوتلو د ستورو باندی او بیشکه (قسم) دی که پوهیږئ تاسی لوی»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تورې سوړې اصطلاح لومړی ځل په( ۱۹۲۹ ) کې د یو امریکایي فزیک پوه (جان ویلر )لخوا را منځ ته شوي ده.
دتورې سوړې نه ځکه د نور وړانګې نه راوځی ځکه هلته د لوی کتلې تمرکز په کوچنۍ خلا کې دئ، لویه او زوروره جاذبه ټول ذرات نیسی لکه د فوتون او هغه بهر نه پریږدي .که یو ستوري د لمر درې چنده غټ وتورې سوړې ته ورشي په شل کیلومتره قطرلرونکی سوړي کې ننوتلای شي.



د مځکی پیدا کول په شپږو ورځو کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې کاینات پیدا کیدل د هغه سرعت یو میلیون میلیون
کاله نسبت مځکې ته ډیر وو
که دا وخت محاسبه کړو یو میلیون میلیون ورځې د مځکې
د کایناتو د یوې دقیقې سره برابره ده
د مځکې له عمره تقریباً (۱۷-۱۲) بیلیونه کاله تیریږی او
قران کریم وایي په شپږ ورځو کې کاینات جوړ شوي دي
دا شپږ ورځې د نسبتي وخت په اساس محاسبه شوي دي
چې دا شپږ میلیون میلیون یا شپږ تریلون ورځي کیږی ځکه
د کایناتو وخت نسبت مځکې ته یو میلیون میلیون چنده
لوړ دی نو د مځکې په وخت کې دا ۱۲.۴۲۷ بیلیون کاله
کیږی که دا عدد د کال په ورځو چې( ۳۶۵.۲۵ ) وی تقسیم
کړو دا (۱۲.۴۲۷۱۰۴۷۲۳ )بیلیونه کاله کیږی
لومړی ورځ یې (۸ ) بیلیونه کاله د مځکې
دویمه ورځ یې (۴ ) بیلیونه کاله د مځکې
دریمه ورځ یې(۲ ) بیلیونه کاله د مځکې
څلورمه ورځ یې(۱ ) بیلیونه کاله د مځکې
پینځمه ورځ یې (۵۰۰ ) میلیونه کاله د مځکې
شپږمه ورځ یې(۲۵۰ ) میلیونه کاله د مځکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي.
چې دا ټوله کیږي( ۱۵ بیلیونه او ۷۵۰ میلیونه )کاله د مخکې چې د کایناتو یوه ورځ کیږي.

## د ستورو ضربان:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
۸۶: ۳-۱«قسم دې په اسمان او [ طارق] په راتلونکی د شپې او څه پوه کړې[ ادراک] ته چې څه دی طارق هغه د ثاقب ځلیدونکي ستوري دي»
(جوسیلن بیل برونیل) وروسته له هغه څیړنې یې چې د کامبیرج په پوهنتون کې یې په کال(۱۹۶۷ )کې ترسره کړه وایي: په فضا کې یو منظم سګنال تشخص شوی دئ چې لکه د زړه ضربان دربی کوي د دې دا ضربان د بیوترون د ستوري دژر تحول نه منځ ته راځی. دې نوی نیوترون ستورو ته( **pulsars** )وایي دا ستوري ډیر روښانه او منډه وهونکي ستوري دي.ځینې د دې ستورو په یوه ثانیه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲۰۰ )واري په خپل مدار را  څرخي او د ضربان د پيدا کيدو سبب ګرځي.
دلته د طارق نه ضربان مقصد دی او د نجم الثاقب مانا ده (سوری کول، د مخ تګ یا سوري ته ننوتل )
دا چې دا ستوري روښانه دی نو په تياره کې سوري خلاصوي او مخ په وړاندی ځي
مور نه پوهيږی دا ضربان لرونکی ستوري څه شی دي ؟ .
خدای ښه پوهيږی !

## د ميږيانو خبري کول:

خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي
۲۷:۱۸-۱۷« کله چې را غلل دوی پر کنده د ميږيو نو وويل يو ميږي و بل ته ای ميږيو !ننوځئ ټول مساکينو خپلو ته چې مات او چيت پيت مو نه کړی هرو مرو تا سی لره سليمان او لښکر د ده حال دا چې دوی به نه وی پوه»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میرېیانو د ژوند طریقه د انسانانو سره یو شی ده ځکه:
۱-میرېیان خپل مړي ښخوي.
۲-میرېیان اداری سیتم لکه کارګر، مینجر سوپروایزر .. لری.
۴-میرېیان چې سره یو ځای شي خبرې کوي
۵-میرېیان د خبروکولو پر مختللی میتود لري
۶- میرېیان د اموالو د تبادلې مارکیت لری
میرېیان را ټول کړی دانې تر ډېر وخت زېرمه کوي که دانو نېښ ووهه د هغه جرړی غځوي او که هغه لندې وې هغه لمر ته اچوی چې وچې شي.

## د ماښام ستوری:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
۴۹.۵۳« او (دا چې ) بیشکه هم (الله) رب د شعری دئ»
شعری یو لوی غټ ستوري دئ چې په اسمان کې د شپې له ورایه مالو میږی ستوری پوهان وایي دا اصلاً دوه ستوري دي چې غټ یې په سترګو لیدل کیږی او وړ یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیلیسکوب کې لیدلی شوی دی د دې ستوري مدار بیضوي دئ خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
**۹:۵۳** «د دوو لیندو یا ډیر نژدې له دې نه هم»

## د نقلیه وسایل:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
**۸:۱۶** «(او پیدا کړی )اسونه او قچري او خره لپاره د دې چې سوریږی تاسی په دوی باندی او په زینت کولو سره او پیدا کوی (نور) څیزونه چې اوس یې نه پیژنئ تاسی»
په هغه وخت کې الوتکه ، موټر، ریل، موټر سایکل او بایسیکل او اپولو نه وه اختراع شوی او خلک په هغه نه پوهیدله نو دلته د هغو یادونه شوی ده.
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
**۴۱-۴۲:۳۶** «او یوه نښه دلیل د قدرت (الله) دوی ته دا ده چې بیشکه موږ سواره کړی دی موږ اولاد د دوی په بیړۍ (جهاز د نوح) ډکه کړی شوی کښتې او پیدا کړی دی موږ دوی ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان د دغه هر هغه څه چې د وی پرې سوریږی( له نورو
نوا قلو څخه )»

## الوتکې:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایې
۲۱:۸۱«او موږ (تابع کړی و موږ) سلیمان ته باد [ریح] توند
چې روانیده په حکم د ده مځکې( شام) هغه ته موږ چې
برکت ایښی و موږ په هغې کې)
له یمن څخه شام ته او له شام څخه یمن ته چې د یوې
میاشتې لاروه په پنځوکړیو کې رسیده.
۱۲:۳۴«(او مسخر کړی موو) سلیمان ته باد سبایی (منزل)
د هغه (د)یوې میاشتې او(د) بیګا یې (منزل) د هغه د یوې
میاشتې (لاره) وه او بهولی مو وه د ده د باره چینه دویلیو
شویو مسو( تیلو)»

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې مالومیږي چې هغه وخت تکنالوژی پر مخ تللی او منحصر په فرد وه د هغه ټول کارونه د ننني نړۍ د کارونو سره سمون کوی خدای ښه پوهیږی.

بریښنا :

**۱۲:۳۴**«او سلیمان ته باد د سبایي (منزل) او هغه (د )یوې میاشتي او د بیګایي منزل د هغه د یوې میاشتي (لاره) وه او بهولې مو ده د ده د پاره چینه د ویلیو کړ شو یو مسو»
داسي مالومیږی په هغه وخت کي پر مختللې تکنالوژی نه کار اخیستل کېده
د مسو څخه پراخه اندازه کار اخیستل کیدل چې نن هم د هغې نه ډیر کار اخیستل کیږی ځکه مس د روښنایي او تودوخې ښه هدایت کوونکی فلزدی او دلته د مسو جاري کول د بریښنا د جریان مانا ورکوي خدای(ج) ښه پوهیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## برمه يې ځاهان:

۱۲۰:۷«...وواهه[اضرب] په همسا خپله تيږه نو
راوخوټېدلی[انبجست] له هغې تيږې څخه دولس چينې...»
دا مبارک ايات دا ښيي چې د اوبو د قحطي په وخت کې د
برمې د ميتود نه کار اخيستې دي کله چې اوبه په ځمکه کې
ننوځی نو په داسې ځای کې چې غير قابل نفوذ وي زيرمه
کيږي که د هغې له مخې موانع ليری شی د هغه نه اوبه را
وځی او که هلته فشار ډير وو نه اوبه فوران کوي
دلته ويل شوی اضرب وواهه او د اضرب بله مانا ده
(پرانيزه، او راپورته کړه ! )يعنی دا ډبره پورته کړه يادا ډبره
ليری کړه چې اوبه راووځی او [ انبجست] مانا ده(

(c) ketabton.com: The Digital Library

تویول، بهیول او روانول) چې دا ټوله په برمه یې څاڅکانو نه کې واقع کیږي.

## اتوم بم:

د اتوم انرژی په اړوند د قران شریف مبارک ایت (سوره النور ۳۵:۲۴ )فرمایي:
«... نه وي رسېدلي د دغو تیلو ته اور رڼا پر رڼا د صافو تیلو ...»
تفسیر: خپله تېل د یوې مادې د خواصو مایع شکل دې نو کله چې یوه ماده لکه تېل ډیر سوچه شي او یا لکه( یورانیم۲۳۵ ) ډیر غني او سوچه شي او نوموړې کتله د نور ضرب نور یانې د نورسرعت په مربع سره شي نو انرژي ځینې لاس ته راځي دغه انرژي په شکل د رڼا سره خپریږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د قران عظیم شان پورتني آیت شریف د یوې معادلې په ټوګه ولیکو او بیا یې د البرت انشتاین د معادلې سره پرتله کړو

قران شریف: ( د زیتون ونې تېل ضرب نور پر نور=نور(انرژی )

معادله یې په لاندی ډول لیکلای شو :

نور ضرب نور=نور(انرژي )تقسیم د تېلو پر کتلې او د انشتاین فورمول

( m )کتله( e )انرژي معادلې تر منځ اړیکې تر څیړنې لاندی ونیسو او د دغې معادلې ښی او کیڼی خوا په کتله وویشو نو ښی خوا ته یې د نور سرعت( c ) په( مربع c ) پاته کیږي

نوموړی فورمول په ډاګه کوي چې کتله یو ډول کنګل شوی انرژي ده انرژي او کتله د هرې مادې دوه غبرګوني او یو بل ته ورته خواص لری دا به دې مانا چې انرژي په کتله او بر عکس کتله په انرژي بدلیدای شي د بیلګې په ډول د یو کیلو ګرامو اوبو یا ډبرې څخه لاس ته راغلی انرژي په دې شرط چې د نوموړی ټول اتومونه یعنی سل په سلو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاس فورمول له مخي په انرژي واړول شي د دې لپاره د انشتاین د فورمول سره سم د نور سرعت یعنی( درې سوه زره کیلو متره ) به یوه ثانیه کې مربع کړو او بیا یې د یوه کیلو سره ضرب کړو نو په پای کې (پنځ ویشت ملیارده کلیوواټ ساعته انرژي ) لاس ته راځي

دا په دي مانا چې دا انرژي د سویس هیواد د یو کال مصرف لپاره بس ده حال دا چې د یو کیلو ډبرو سکرو نه لږ څه اته کیلوو(اته ساعته ) حرارتي تودوخه لاس ته راځي

حال دا چې دا فورمول( 1400 )کاله مخ کې موږ ته وړاندوینه شوي ده.

## نوري ځمکې :

که د قرانکریم په لومړی مخ لومړی سوره کې لیکل شوي دي: په نامه د هغه خدای(ج) چې نیایت مهربان او رحم والا دی لوی دئ دی او د دنیاوو مالک دئ.

دلته مقصد ده څو دنیاوو [العالمین ]نه نوم اخیستل شوی دئ د مثال په توګه د فزیکي نړۍ ، روحی نړۍ، بکتریایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ او همدا سې نور او بل دا چې په قران کريم کې ليکل شوي دي ډيري مځکې شته
خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي:
**۱۲:۲۵**«الله هغه دئ چه پيدا کړی دي او ه آسمانونه او له مځکې څخه هم په مثل د دې نازليږي امر حکم (د الله) په منځ د دغو کښې...»
دا ډيره ممکنه ده په کايناتو کې نوري مځکې وجود ولري ګرچې زموږ په کهکشان او د لمر په سيستم کې تر اوسه بله مځکه نه ده پيدا شوې ډاکټر (بوکيلی )وايي: په آسمان کې په اټکل سره (پنځوس بيليون )ستوري لکه لمر شته او پر هغو ستوري پر هغو بيا سيارې را څرخي د بېلګې په ټوګه د (بيمرد ستوری) اقلاً يوه سياره لری او اوس دا ثابته شوې ده چې په ټوله فضا کې ډيري سيارې موجودي دي همدا سې لکه چې لمر او مځکه يو شي نه دي
او د( تورونتو ) ستوري په هکله سيانس پوهان ادعا کوي چې پر هغه ډيري مځکې را څرخي شايد ډير ژر هغه يو درجن مځکې کشف شي.
خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ۲۹:۲ «... بيايي قصد وکړ اسمان ته نو برابر يې کړل دوی اووه اسمانونه...» استرو فزيک دا ثابته کړی ده چې ډير کهکشاني سيستمونه وجود لری
نو ډاکټر (بوکيلی) وايي دا بيشکه د خدای کلام دی او هغه څوک چې دا نه مني هغه ګناهکاره دئ لکه چې قران وايي:
۴۱:۴۱-۴۲ «بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي په ذکر قران کله چې راغی دوی ته حال دا چې بيشکه دغه قران خامخا کتاب قوی دئ نه راځي دغه قران ته باطل د مخې ددې او نه شا يې راليږلی شوي دي له طرفه د حکمت والا ثنا ويلي شوي(الله)»

## د اوريدو او ليدو حس:

په جنين کې لومړی حس چې وده کوي هغه د اوريدو حس دئ چې (۲۴ ) اوونۍ وروسته کولای شي واروي او د ليدو حس وروسته له (۲۸ ) اوونۍ کې (ريتينا ) د روشنايي په مقابل کې غبرګون ښکاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
۹:۳۲«او ویې ګرځول تاسې ته غوږونه او سترګې او زړونه...»
۲:۷۶«بیشکه پیدا کړي دي موږ انسان له نطفې څخه چې ګډه وډه شوي ده»
۷۸:۲۳«او دغه( الله) هغه ذات دئ چې پیدا کړی یې دي تاسې ته غوږونه او سترګې او زړونه ډیر لږ شکر باسئ تاسي»
تر ټولو لومړی اوریدلو او بیا لیدولو ته نغوته (اشاره )شوې ده چې دا د نننۍ ساینس سره پوره ورتوالی لري.

## د رنګونو توپیر:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
۲۲:۳۰«...پیدا کول د آسمانونو او مځکې او اختلاف د ژبو او رنګونو ستاسي بېشکه په دغه کې خامخا ډیري نښې دي دپاره د عالیمانو»

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۳:۴۹**«ای خلقو ښېشکه موږ پیدا کړی یې تاسي له یوه سړي او له یوې ښځې او ګرځولی یې موږ تاسي څانګې او قبیلې قبیلې د پاره د دې چې و پیژنئ یو له بله سره ... »
د دې رنګ ، نژاد او ژبې توپیر د هغو د امتیاز سبب نه کیږي او دا کار د پیدا کولو قدرت ښیي او هیڅ نژاد له بله امتیاز او برتري نه لري

**وسپنه:**
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
**۲۵:۵۷**«...رالیږلي موږ وسپنه چې په دې کښې سخت جنګ ډیر قوت او ګټې دی لپاره د خلقو»
په نړۍ کې دوه فلزات ډیر شته یو وسپنه او بله المونیم دي چې د وسپنې نه ډیري سلاحګاني او د خلکو د پاره وسایل جوړیږي بل دا چې وسپنه مځکې ته رالیږل شوی ده دا دد ې ځمکی فلز نه دئ داسي اټکل کیږي چې د مځکې د جوړیدو په درشل کې آسماني ډبرې چې د وسپنې فلز ترکیب یې په ځان کې درلود د نورو ستورونه د میتورایتو په بڼه د ځمکې ته راستول شوي وئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دعکسونو استول:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
۴۰:۲۷«وویل هغه چې د ده څخه علم و له کتابه زه به راوړم تا
ته دا (تخت) پخوا له هغه چې بیا راوګرځي تا ته سترګه
ستا»
د بلقیس تخت د سترګو په یو رپ کېښي له محارب نه یې تر
شام ورسوی
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
۳۹:۲۷«وویل یو زورو سخت د پیریانو چې زه به راوړم تا
ته( تخت ) پخوا د هغه چې پاڅیږې ته له دغه ځایو زه په دغه
راوړولو قوی امانتګریم»
اوس د ټکس په واسطه عکسونه او فلمونه د انترنیټ له
لاري استول کیږي.
د تیلیپورتیشن په واسطه د غټو شیانو تجزیه په اتومو او
مالیکولو په بڼه او د هغو لیږدول لیري ځایو ته او هلته د
هغه بیرته جوړیدلو امکانات به په رانژدې راتلونکي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته چې وخت او واټن به د هغه مانع نه شی او په یوه ثانیه
کې به هر بې ځانه شی هر ځای ته د لېږدولو ور وي
۳۲:۴۱ «ژر ده چې و به ښیو دوی ته دلایل د (قدرت) خپل
چې په افاق ملکونو کښې دي او په نفسونو د دوی کښې
دي تر هغه پوري چې ښکاره شی دوی ته چې بیشکه دغه
قران حق دئ..»

## تیل:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
۱-۵:۸۷ «پاکي بیان کړه په نامه د رب خپل چې ډیر لوی دئ
او ښه غالب دئ چې پیدا یې کړی[فسوی] اعضای برابر او
بې نقصه او هغه چې اندازه یې کړل[فهدی] نو لاره یې
وښوده چې راایستلې یې ده تازه ګیاه [المرعی] له مځکې
څخه پس ویې ګرځوله هغه [غثا] وچه توره(احوی»

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټرول چې د ژويو او نباتاتو د بقاياو د خوسا کيدو نه نه پيدا کيږي او ميليونونو کاله وخت نيسي چې دا خوسا مواد په تيلو او ګاز بدل شي
په دې مبارک ايات کې المرعى چمن او علفچر ته وايي.
احوى (تور شنه ، شنه توراو د نباتاتو توروبا خوسا شوی بقايا ته وايي )او د غثا معنی ده (د سيلاب اوبه چې فاسد مواد يې له کلي نه را ټول کړئ يا هغه شی چې د قی په واسطه بهر را وځی دی يعنی د سيلاب د قی مواد نه جوړ شوی )
خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي
۱۲:۳۴« ... او بهيولې مو وه د ده د پاره چينه د ويليو شويو مسو (تيلو )»
چې دلته د ويليو شو يو مسو نه مقصد تيل هم کيدای شی په ډيرو تفاسيرو کې تيل راغلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بوی استول:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمايي:
۹۴:۱۲ «...بیشکه زه چې یم خامخا مومم بوی د یوسف که چیري نسبت د کم عقلي نه کوی ماته»
په راتلونکي کې د تیلیپورتنګ په واسطه لکه د عکس لیږل دا امکانات لری چې د بوی اتومونه د الکترونکي سګنال په ډول لیری ځای ته بیله دې چې وخت او زمان د هغه خنډ شئ واستول شئ

## اتومي انرژي:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمايي:
۹۵:۲ «بیشکه الله څیروونکی د دانې [الحب] دی او زړې [النوی] راباسي ژوندی [الحی] له مړی [المیت] او استونکی د مړي دئ له ژوندي دغه الله دئ نو کوم طرف ته ګرځوی شئ تاسي»

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مبارک ایات شاید د اتوم و ماتیدو ته اشاره وي په
ډکشنري کې النوی (مرکز د اتوم، دد اتوم د هستې )په مانا
راغلئ دئ.
انرژي مړه ده هغه له د یوه ژوندي شی نه راباسي
خدای تعالی ښه پوهیږی
د الحی مانا ده ژوندی ، فعال او انرژي لرونکی شی او د
المیت نه شاید انرژي ته اشاره وي، د انشتاین د تیوري په
اساس هر شی په انرژي بدلیږي نو انرژي د شیانو نه لاس ته
راځئ د اخراج مانا ده ( مخ ته تګ او همداسې بهر ایستل او
خپرول(لکه د بریښنایي امواجو ) )
ساینس پوهان اوس د اتوم د هستي د ماتولو نه انرژي لاس
ته راوړي.
د فالق مانا ده داتوم د هستې ماتول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کایناتو شکل:


پخوا ویل کیدل چې کاینات د فوتبال د توپ بڼه لري خو اوس ساینس پوهان وایي د کایناتو بڼه یو اوږد ترومپیټ ته پاته کیږئ دا د ترومپیټ شکل د ریاضی د موډل او د استرانومی د داتا په اساس برابر شوی دئ او ساینس پوهان وایي دا د کهکشانو شکل لکه یو اوږد قیف غوندی دئ چې ترومپیټ ته ورته دئ او نرۍ خوا یې نامحدوه اوږده ده دا څیړنه د جرمني فزیک پوه (فرانک ستینر ) د یو لک پوهنتون د نوی ساینس مجله کې نشر شوې ده چې د دې تیوري مغلق ریاضی موډل ته (پیکارد تپولوژی )وایي قران کې خدای تعالی داسې فرمایي:

۷۳:۶ «...هغه ورځ چې پوکی وکړ شئ په صور(شپیلۍ ،ترومپیټ) کښې ...»

۶۸:۳۹ «او پوکل په وکړل شي په صور(شپیلی ،ترومپیټ) کښې پس بیخوده مړه به شي هر هغه چې په آسمانونو کښې دي او چې په مځکه کښې دي مګر هغه څوک چې اراده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وفرمايي الله بيا به و پوکل شي هغه شپيلۍ(ترومپيټ)
کښېږي بل ځلي پس ناڅاپه به دغه خلک به ولاړ وي»




## نورمخلوقات:

خدای(ج) په قران شريف کې فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸:۱۲«.... او پیدا کوی ځیزونه چې اوس یې نه پیژنې تاسي»
۴۵:۲۴«...پیدا کوی الله هر هغه څه چه اراده یې وفرمایی الله
پر هر چیز باندی ښه قادر دئ...»
تر اوسه پورې د نورو شیانو د پیدا ایښت پروسه نه ده پایته
رسیدلې دا اوس جوته شوې ده چې د ځینو طبیعي پدیدو د
جوړیدو پړاو نه تر اوسه دوام لري چې یوه بېلګه یې د
سحاب د دوړو او اوریځو نه د نوی کهکشانو نوی پیدا اینې
دي

## روښنایي او تیارې:

۱:۲« ګردی ثناوی خاص هغه الله لره دئ چې پیدا کړی یې دئ
تیارې او رڼا...»
موږ پوهیږو چې انسان په تیاره کښې شی نه شوای لیدلی
هغه شی چې موږ ګورو هغه دیوې برخې د روښنایی
خپریدونکی انرژي ده ډیري نوري د روښنایی خپریدونکی
انرژي شته چې انسان هغه نه شوی لیدلای لکه ماورای

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنفش وړانګې ، ایکس وړانګې، انفرا رید وړانګې او
رادیویي امواج او داسې نور
انسان دغه روښنايي ته ړوند دئ او دا هم عجبه ده چې په
قران کریم کې(۲۳ ) ځایه تیارې د جمع په ډول ذکر شوی دي
او یو ځای هم مفرد نه ده راغلی.
دا دا مانا لري چې موږ ډیرې روښنايي نه شوای لیدلی د
هري روشنايي د امواجو اوږدوالی سره توپیر لري.

## د کایناتو ختمیدل یا لوی کړنچ:

(ریناتا اکالوش او اندریل لیند ) د ستنفورد د پوهنتون د
فزیک پروفیسران وایي:
داسې وخت به راشي چې کاینات په ټوک ټوک او فناشي او
هغه به په دومره وړو ذرو لکه پروتون تجزیه شي لکه په
توره سوړه کې.
داسې وړاندوینه کیږي چې هغه وخت به د تیارې انرژي
منفي شي نو چې د تیاري چارج منفی شو نو کاینات له منځه
ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۰۴:۲۱** « **هغه ورځ چې را ونغاړو آسمان لکه نغښتل د سند د پاره د لیکل شویو کاغذونو (کتابت) لکه چې ابتدا کړی موږ اول پیدا ایښت بیا اعاده کوویې وعده ده په موږ بیشکه موږ یو کوونکي**»

**۲۷:۳۹** «**او ځمکه ټوله په قبضه د ده کښې ده په ورځ د قیامت کښې او آسمانونه نغښتلي شوي دي په یمین د ده کښې...**»

## قران نوري وړاندويني:

## د سود م او ګو مورا د ښارونه:

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۱:۷«تاسو (د لوط قوم ) یو قوم اسراف کوونکي یاست»
۸۴:۷« او اووراوه موږ په دوی باندي باران ( د کاڼو ) پس وګوره ته چې څرنګه شو عاقیبت د ګنهکارانو»
دا کلی دا احمر بحری ته نژدې پروت وو چې اوس د اسرایلو او اردن سرحد ته نژدې واقع دئ چې د سلفرو د پوډرو د رسوب لاندی ښخ شوی دئ هلته اوس هم د ژوند نښې نه لیدل کیږي دا سلفر د اورغورځونکي غرونو لاوا ده ،
خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي
۷۴-۷۷:۱۵« نو وګرځاوه موږ پورته طرف د دې ښارونو کښته طرف د دوی او وه اورول موږ پر هغوی کاڼي له کوتکاڼو څخه بیشکه په دغه (کیسې کې ) خامخا دلایل دي د پاره د پوهانو عبرت اخیستونکو او بیشکه دغه خامخا پرتې دي په لاره سمه کښې او بیشکه په دغه کې خامخا دلیل دئ مومینینو ته »

## د سبا ښار:

چې مکمله کیسه یې په قران کریم کې راغلې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای (ج) په قران شریف کې فرمايي:
**۱۵:۳۴**«خامخا په تحقیق وه خلقو د سبا ته ځای د هستوګنې
د دوی یوه لویه نښه چې دو باغونه دی له ښي او کیڼ(طرف
د مینو د دوی )...» او کیسه په **۱۷-۱۲:۳۴** ادامه لري
هغو د اوبوبندونه او د اوبو لګولو ښه سیستم درلود او
میوو ښه باغونه یې درلودل د هغو د اوبو لګولو سیستم
خراب او باغونه یې په ځنګلونو بدل شول
دا ښار اوس په جنوبې افریکا کې موندل شوی دئ

## فرعون:

ډاکټر( میورس بوکایلی ) مشهور فرانسوی جراح ،ساینس
پوه او عالم د انجیل ،قران او ساینس د کتاب لیکونکی په
خپل یو کنفرانس کې چې په عربستان کې وو داسي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موميالي شوی فرعون په جسد چې په قران کريم کې د هغه د ساتلو او د خلکو د عبرت د پاره ويل شوی مبارک ايات په اشاره وکړه چې تر اوسه دا د فرعون جسد د خلکو د ليدو لپاره شته

خدای (ج) په قران شريف کې فرمايي

۹۲:۱۰ «نن ورځ به خلاصي درکړو تا ته په بدن ستا له روحه او وبه دی باسوله بحره( لوخ لغړ ) د پاره د دې چې شی ته د پاره د هغه چاچې وروسته له تا راځی ايت(دليل د عبرت )....»

چې اوس دا فرعون لوخ لغړ جسد د مصر په موزيم کې لکه چې قران کريم ويلی دی لوخ لغړ جسد د خلقو د عبرت له پاره پروت دی.

## د سپتمبر د يولسمې پېښه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکا د متحدو ایالتونو د سوداګریزو اسمانڅکو ودانیو د نړېدو مسلې ته کلونه مخکې قران کریم نغوته کړې ده د قران کریم د التوبه سورت(۱۰۹) ایت د دغې پېښې ګواهي ورکوي په دغه سورت کې نړېدلې دوه ودانۍ د (جورف هار) په نوم راغلې دي او د د ودانیو د پوړنو شمېر هم( ۱۰۹ ) ته رسېده چې د سورت د ایت سره سمون خوري.

د سپټمبر پېښه د( ۲۰۰۱ ) کال د سپټمبر په یولسمه نېټه را منځ ته شوه ، سپټمبر د عیسوي کال نهمه میاشت ده چې د عدد او توررویو له مخې د سورت جز(۱۱ )او شماره یې (۹ ) ده د سورت ټول توري(۲۰۰۱ ) دی.

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:

۹:۱۰۹«آیا هغه، چې خپله ودانۍ یې د خدای په پرهیزګارۍ او رضا ودانه کړېده غوره دئ او که هغه، چې ودانۍ یې د څاه پر غاړه (جرف هار)جوړه ده، چې رانړیږی چې ناچاپه په دوزخ په اور کې لوېږي او خدای ظالمانو ته لارښوونه نه کوئ او کومه ودانۍ یې چې جوړه کړې ده، تل به د زړونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاراو او وېرې لامل ګرځېدلې تر هغې چې زړونه یې ټوټې ټوټې شي او خدای (ج) پوه او حکیم دی.»
د دغه ودانیو د ړنګېدو په اړه د امریکایانو وېره او ډار د هالیووډ له وروستیو فلمونو نه په ډاګه برېښي

## د ارم ښار:

۸۹:۸-۲«آیا نه وی خبر ته (ای محمده) چې څه کړی دی رب ستا د عادیانو سره چې ارم و چې خاوندان د قوت قامتونو لویو هستی قبیله چې نه وه پیدا شوی مثل د هغې په ټولو ښارونو کښې»
د ارم ښار چې د ستونونو د دښار په نامه هم راغلی دی تر اوسه څوک نه پوهیده دا په کوم ځای کې دئ.
په (۱۹۷۸) ډیسامبرد میاشتې د نشنل جغرافیی یوه مقاله کې د یو نوی کیندل شوی ښار د پیداکیدو خبر ورکړ چې دا ښار د (ایلبا ) په نامه نژدې و سوریې ته کشف شو چې ( ۴۳ ) پیړۍ قدامت لری او دا عجبه نه وه عجبه دا وه چې هلته یو کتابخانه وموندله شوه او په هغه کې هغه ښارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو لېسټ وو چې ايليا د ښار ورسره تجارتي اړيکې
درلودې په هغه کې د ارم د ښارنوم هم وو.

## ساينس پوهانو نظريات د قران د ساينسي معجزو په هکله:

دلته د قران د ساينسي معجزو په هکله د ځينو نامتو
ساينس پوهانو تبصرې ته يوه کتنه شوې ده:
۱-ډاکټر ( تي. وي.ين.پرسود ) د کانادا د د منيتوبا د
پوهنتون د اناټومي او ماشومانو د صحت پروفيسر چې
(۲۲ ) کتابونه يې ليکلي او ( ۱۹۹۱ ) کال کې يې د اناټومي
ځانګړې جايزه وړې ده د قران د ساينس معجزو په هکله
وايي:
دا چې محمد (ص ) ويل او ليکلای نه شول او څوارلس
پيړۍ مخکې يې د ساينس د طبيعت په هکله يې دا سي کره
معلومات ويلي دا يو چانسي خبره نه ده دلته بيخي ډير
واقعتونه بر ملاشوي دي لکه چې ډاکټر موري هغه ته اشاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې ده په دې کې هیڅ شک نشته چې دا ټوله آسماني خبري دی چې محمد (ص) ته الهام شوی دئ.

۲-ډاکټر (جو لی سمسن) د امریکا د تکزاس د بایلور د کالج د د انساني جینتک پروفیسر د دغه دوه حدیثونو شریفو د مطالعې وروسته وویل:

« ستاسو هر یوه ټول اجزا ستاسو د خلقت یو ځای شوی دی د مور په رحم کې مو په څلویښت ورځو کې...»

« چې دوه څلویښت شپې پر جنین تیري شی خدای یوه ملکه هغه ته وراستوی چې هغه ته بڼه (شکل) و رکړي او د هغه ته ورکړي غوږونه ، سترګې ،پوستکی او غوښه او هډوکی ...»

هغه وایي دا بلکل سمه او جامع خبره ده چې په لومړی څلویښت ورځو کې د جنین د تولیدو وخت دئ زه پوهیږم چې د وراثت او مذهب تر منځ اختلاف نه شته او مذهب د الهام په واسطه ډیرو شیانو کشفول اسانه کړی دي.

۳-ډاکټر (هی. مارشل جانسن) د امریکا د پنسیلوانیا د توماس جعفرسن د پوهنتون د اناټومي او بیولوژي پروفیسر وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

قران نه یوازی د جنین بهرني وده تشریح کړی بلکې داخلي برخې هم تشریح کړې ده
هغه وایي زه یو ساینس پوه یم یوازې هغه وایم چې هغه وینم زه په امبریولوجي او بیولوژي پوهیږم زه په دغه اصطلاحات چې په قران کریم کې راغلی دي ښه پوهیږم زه دا واقیعتونه چې محمد (ص) ویلی دی نشوای ردولای
۴- ډاکټر (ویلیم دبلیو. های) د امریکا د کلورادو د پوهنتون د جیولوژي مشهور پروفیسور وایي:
ما په قران کې ډیر جالب موضوعات ولیده نه پوهیږم دا د کوم ځایه ویل شوی دی.کله چې د هغه نه د قران کریم د منبع په هکله پوښتنه وشوه هغه ویل: زه فکر کوم دا به آسماني خبري وي.
۵-ډاکټر (جیرالد سی جورینجر ) د امریکا د واشنګټن د جورج تاون د د طبی امبیرولوجي پروفیسر په خپله ریسرچ پاڼه کې لیکی:
دا څو ایاتونه چې د انسان د ودې په هکله ویل شوی دی داسې یو مکمل ریکارد یې د ګامیت د هغه کلاس بندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

،ترمینولوژی او تشریح یې شوی ده چې په نوروساینسي عنعنوی ادبیاتو کې یې ساری نه لیدل کیږی.
۶- ډاکټر( یوشیهید کوزمی ) د جاپان د توکیو د پوهنتون پروفیسر وایی:
کله چې ما د فضا په هکله د قران نه څه وارویده پر ما یې ډیر تاثیر وکړ موږ د کایناتو ډیره لږه حصه تر څیړنې لاندی نیولی شو او په تیلیسکوپ په واسطه لږه حصه مطالعه کولای شو نو د قران کریم په ویلو سره به ډیرو سوالونو ته ځواب پیدا شی او زه به خپل د راتلونکی څیړنو لاره په کایناتو کې وموندم.
۷-(تجاتت تجاسن ) د چونګ ما د پوهنتون د اناټومي د دیپارتمنت پروفیسر د عربستان په اتوم طبی کنفرانس کې ولاړ شو او ویې ویل:
دا درې کاله کیږی ما د قران کریم سره ډیره مینه پیدا کړی ده دا (۱۴) پیړۍ مخکې چې څه په قرانکریم کې لیکل شوی باید دا ټوله درست وی او داچې محمد (ص) نالوستی وو نو دا د خدای(ج) کلام دئ او دا یې وخت دئ چې کلمه ووایم هغه کلمه وویل او مسلمان شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمن ليكونه

**-1**

**A BIREF ILLUSTRATED GUIDE TO UNDERSTANDING ISLAM-BY I.A.IBRAHIM**
**-2**
**LECTURE BY MOULANA – IRSHAD SOOFI**

**FAZLUR RAHMAN ANSARI**

**-3**
**ISLAM IS FOR YOU QURAN AND MODERN SCIENCE DR- ZAKIR NAIK**
**-4**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**THE QURAN AND MODERN SCIENCE BY DR MAURICE BUCAILLE**

**-5**

**RELIGION OF ISLAM –THE SCIENTIFIC MIRACLES OF THE HOLY QURAN**

**-6**

**THE QURAN-ARABIC TEXT WITH CORRESPONDING ENGLISH MEANING-1997-SAHEEN INTERNATIONAL**

**-7**

ډاکټرنظر محمد سلطانزی ځدران –بم اتوم

د بینوا ویب پاڼه

**-8**

قرانکریم ترجمه اوتفسیر رومبی او دوېم جلد المدینه

المنوره

**-9**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**USC-MSA COMPENDIUM OF MUSLIM TEXT THE QURAN KNOWGEDGE AND SCIENCE BY A.ABD-ALLAH**

**-10**

**ISLAMCITY-ISLAM QURAN AND SCIENCE**

**-11**

**WELCOME TO MUSLIM HOPE.COM ASTRONOMY AND THE QURAN**

**-12**

**COMMUNICATION AND SERVICE ISLAMICA MAGAZINE**

**-13**

**MIRACLES OF THE QURAN BY HARUN YAHYA-ISLAMIC DAWAH CENTRE INTERNATIONAL**

14

AN INVITATION TO THE TRUTH- HARUN - YAHYA

(c) ketabton.com: The Digital Library

# 15
# ISLAM AND MODERN SCIENCE BY SEYYID HOSSEIN NASR-IRFI

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**